نویسنده : عبدالله نجات تاریخ 06/03/2008

# د قومي نشنلېزم اناتومي

کومه ځواکمنه لېوالتيا چې د افغاني ټولنې تومنه ګواښوي هغه قومي نشنلېزم دی. دغه لېوالتيا له فکري پلوه بې ځواکه او په تشکيلاتي لحاظ بې انسجامه ده، خو بايده ده چې د ټولنې روڼاندي او آزاديپاله ځواکونه دغه کمزورتياې د دغو اندونو ويجاړوونکې، ناانساني او غير عقلاني اغېزې او ځواک له پامه ونه غورځوي. يو شمېر کسان شته چې په پوهې او ناپوهې کې د قومي رخې او کينې تخم کري او قومي زهر شيندي. د قومي مېرځمنو ځواکونو د مينځ ته راوړلو لارې او شرايط برابروي پدې لټه کې دي چې قومي خوسا شوی پوچ هويت د ملي انساني هويت پر ځای کېنوي.
غوره دا ده چې زموږ ناروغه لالهانده کړېدلی ملت د دې سياسي تفکر په وېروونکو ظرفيتونو چې مراندې او ولی يې فاشيزم ته رسېږي پوه شي او افغان آزاد روڼاندي په يوې سوچمنه شعوري مبارزه کې د هغوی د دومره خپلسريو او بدکاريو مخه ونيسي ناسيوناليزم کولای شو دوه ډوله وارزوو:
مدني ناسيوناليزم / قومي ناسيوناليزم
مدني ناسيوناليزم هغه سياسي سيستم دی چې فيوډالي نظام څخه وروسته د ټولنې پر مخ تللی سياسي سيتم ته يې انتظام ورکړ. که څه هم د ښاريتوب د حقوقو، د قانون پر وړاندې برابري د دوديزو ارزښتونو بې اغېزې کولو سره ملګرتيا او په علمي منطق په بنسټيزه توګه ډډه لګوي. د دې سياسي سيستم له ځانګړنو څخه شمېرل کېږي، خو د مدني ناسيوناليزم کوټلی او بنيادي دنده د خپل، زی هويت پر ځای د ملي هويت جوړول او د خانخانی د سيستمونو پر ځای د هېوادنيو دولتونو جوړښت او نغښتل دي.
په بله وينا مدني ناسيوناليزم د ملتونو په جوړولو سره د ټولنې جوړښت داسې ورغاوه چې په بېلابېلو سياسي جغرافيو کې يې د پانګې د سيالۍ امکان برابر کړ. خو د پانګوالۍ ټولنې پلويان او له پانګه والو رسنيو اغېزمن بيا دغه عقيده نلري چې ملت يوه جوړه شوې پديده ده. دوی داسې انګېري چې ګواکې ملت هغې ډلې انسانانو ته ويل کېږي چې ګډ نژاد، ګډ فرهنګ او ګډ تاريخ لري.
خو دغه نظريه ډېره کمزورې او له واقعيته لېرې ده. پدې چې ډېر ملتونه دي چې له بېلابېلو قومونو جوړ شوي او تاريخي فرهنګي لارې يې بېلې او توکميزه ګډه سرچينه نلري. کاناډا د دغو ملتونو يوه بېلګه ده، بله خوا ډېرې ټولنې شته چې ګډ فرهنګ تاريخ او نژاد لري، خو بېلابېل ملتونه يې جوړ کړي دي. عربي هېوادونو يې ښه بېلګه کېدای شي.
دغه واقعيتونه څرګندوي چې ملت جوړېده کې له نورو عواملو او شرايطو سربېره قدرت او زور هغه عنصر دی چې اساسي نقش او اغېز يې د دې پديدې په رازېږولو کې د ملتونو په تاريخي بهير کې له ورايه تر سترګو کېږي. که څه هم دې ډول ناسيوناليزم سره مدني تاړې تړل شوي، خو واقعيت دا دی چې همدغه مدني ناسيوناليزم د انسانانو تر مينځ د جګړو ويجاړوونکې ځواکمني ګرځېدلې ان تر دې چې ملتونه په زور او جګړو جوړ شوي دي.

- د کاناډا ملت د انګرېزي ژبو، فرانسويانو او د کاناډا د ځايي خلکو تر مينځ د جګړو محصول دی.
- امريکا د امريکې، انګرېزانو، ځايي اصلي خلکو او اسپانويانو له جګړو سر راپورته کړ.
- د ناپليون جګړو فرانسه جوړه کړه.
- انګرېزانو څخه د اسکاټنديانو او ويلزيانو د ماتې په پايله کې انګلستان راوزېږېد.
- لومړۍ نړيوالې جګړې او د ارمنيانو ټولوژنې په نتيجه کې ترکيه جوړه شوه.
- عربي او افريقايي هېوادونه د اروپايي هېوادو د جګړو او سياليو محصول دی.

دغه رامينځ ته کېدنې د مدني ناسيوناليزم بېلګې دي.
د ملي دولتونو د جوړښت بهير دغه واقعيت په ډاګه کوي چې ملت د وګړيو هغه يوځائيتوب څخه عبارت دی چې د جګړو له امله په ټاکلو سياسي اډانو کې د دولت په نوم تر تشکيلاتي کنترول لاندې راغلی وي.
قومي ناسيوناليزم هغې سياسي توګې ته ويل کېږي چې وګړي ته خپل قام پورې تړلې ټولنې قامولي، ژبۀ دود او دستور او اداب ده ته سپېڅلي وي او په منفي بڼه قدرت کې برخې تر لاسه کولو لپاره دغه ځانګړنې په سياسي پلاتفرم بدلوي.
خپلې وينې، ژبې، سيمې او قوم ته د نورو پر وړاندې سپېڅلتيا قايلېدل، زوړپالنه، د نورو قامونو سپکاوی او ابليس ښودل، د قومي کرکې خپرول، قومي زهر پاشل د قامي ناسيوناليزم له ځانګړنو څخه دي.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

په نوي يمه لسيزه کې د يوګوسلاويا پېښې د روندا نسل وژنه، د فلسطين ناورين د چيچن پېښې د قومي ناسيوناليزم ورانوونکې پايلې دي.

قومي ناسيوناليزم له نظره د مکالمې ژبه د قومي هويت د يوې سپېڅلې برخې حکم لري چې بايد په هره بيه د هغې ملاتړ او ساتنه وشي. ژبه له ټول غوره توب سره سره د سپېڅلتوب له پلوه اعتباري مسئله ده دغه راز شاوخوا خلکو سره د انسان د اړيکو لپاره يوه وسيله ده غوړېدل او وچېدل يې بېلابېل لاملونه لري ژبه په خپل نفس کې د پرديتوب او پر خپل او پردي دوستۍ او دشمنۍ د وېش وسيله نده، دغه فرهنګي وسيله د ټولنې اقتصادي او ټولنيزو تحولاتو سره يو ځای تغير او بدلون مومي رامينځ ته کېږي وده کوي يا درېږي او مړاوې کېږي او نور بدلونونه پکې رامنځ ته کېږي.
په نورو ژبو او ډېرو ژبو پوهېدل انساني وړتيا ښيي د پرديو ژبو زده کړه بې فرهنګي نده د ساده توب او شډل فرهنګ لاملونه بايد په جلا او ځانګړې توګه ولټول شي.

د پانګه والۍ له پراخېدو وروسته نوې تکنالوژي او علومو څخه د ګټې اخيستو ضرورت د نوې ټولنې انتظام او د ځواکمنو دولتونو جوړښت د يوې يا دوو ژبو رسمي شتون، چې ټول وګړي وکړای شي خپل مينځي اړيکې ټينګې کړي، ضروري کړ. د همدې ضرورت له مخې د افغانستان د دواړو ژبو (پښتو- دري) د رسميتوب مسئله څرګندولی شو او پدې برخه کې افغانستان يوازينی هېواد هم نده بېلګې يې په نورو هېوادونو کې هم شته دي.

په اوولسمه پېړۍ کې د انګلستان خلکو له سلو پينځه ويشتو په انګرېزي خبرې کولې د ايتاليا تر خپلواکۍ وروسته په سلو په ايتالوي ژبه خبرې کولې، خو د علومو او تکنالوژۍ د زده کړې اړتيا دولتوال دېته اړ کړل 2.5%کې ډېر لږو خلکو د چې له مروجو لهجو يوه يا دوې لهجې د هېواد په سراسري او رسمي ژبه ومني او پدې برخه کې د ژبې وړتيا، اغېزمنتوب او پرمختيا سره سمون مهم رول لري. قومي ناسيوناليزم د خپلې ژبې او توکم د ستايلو او د نورو قومونو د ژبو تکفير له لارې هوډ کړی چې د قومي کرکې راپورته کولو لپاره ځواکونه چمتو کړي.

قومي ناسيوناليزم پر اقتصادي نابرابريو، ښځې او نارينه تر مينځ پر حقوقي نابرابريو چې دولتونو او حاکمو دودونو پر ټولنه تپلي رغنده او غوڅ انتقاد نلري. د وزګارتيا بيمې، کار د ټولو لپاره، درملنه، وړيا زده کړې او ټولنيزې سوکالۍ په څېر غوښتنې د دې سياسي اندينې (تفکر) په فکري اډانه کې ځای نلري. پدې توګه د ځواکونو د راټولولو په خاطر او په منفي توګه له مرکزي دولت څخه د امتياز تر لاسه کولو او د فشار د وسيلې په توګه بدلېدلو لپاره له قامي کرکې پرته بله لاره چاره نه ويني. په همدې وجه د هېواد د نورو قومونو او خلکو پر وړاندې منفي تبليغات د هغوی اصلي لارې چارې جوړوي. د پرديو پر ضد د خپلو راپارونه د هغوی ارمان جوړوي او پدې لاره کې هر ډول رښتيا او درواغ او ناروا کاروي. دوی ماموريت لري او د خبرو اترو داسې سيستم نه کار اخلي چې پدې توګه خلک وپاروي هغوی ته منفي ذهنيت ورکړي او د ځان او خپلو سياسي موخو لپاره لارې جوړې کړي. د قوم پالنې په لرليد کې پرته له دوی نور د ټولو اسماني او ځمکنيو آفتونو سرچينې دي. دغه قومي ستايونکي ځانونه د نېکۍ لارويان او د خپل قوم ژغورندويان ګڼي.
دغه قومي مينه وال په شعوري توګه او يا په ناپوهۍ سره د ټولنيز او فرهنګي يون او نوښت مخه نيسي دوی د خلکو هوساينې ټولنيزې، سياسي او کلتوري سوکالۍ ودې او پرمختيا نوې لارې چارې يا نه ګوري او يا هغه پټوي د قاموالو قومي زړه سوی خپل قوم ته هم څه نشي ورکولای.

زموږ هېواد په همدې دريو لسيزو کې د همدغه سياسي نادودو د ناوړه چلندونو ښکار شو او پرديو هېوادونو لاسوهنو ته يې په خپل ملي برخليک کې د لاسوهنو زمينې جوړې کړې. د قومي ناسيوناليزم لارويان په پوړيز او ټولنيز طبقاتي توګه هم د کوم نوي تفکر او يا نوې ټولنيزې اقتصادي لارې استازيتوب کوي. موږ وينو نننۍ پانګه واله او بورژوازې آزادې سوداګرۍ د فرهنګونو ملګرتيا او نږدېتوب سره لېوالتيا ښيي. د ګډو اړيکو د ټينګتيا ژبې او يوه سياسي جوړښت او يوه واحد هېواد پر لوري د اروپايي اتحاديې حرکت د نننۍ پانګوالې ټولنې د بهير يوه بېلګه ده او ښايي په راتلونکي کې دغه يو ځای کېدنې او ګډ برخليک په بېلابېلو سيمو کې لارې پرانيزي او يوه څه څرک يې همدا اوس تر سترګو کېږي، خو د قوميتوب مينه وال په داسې شېبو کې لګيا دي چې خپل قوم پورې تړلې خلک په جغرافيايي او تړلې قومي پوله کې اېسار کړي او د نړۍ له نوښتونو څخه يې لېرې وساتي.
د قومي اندود کمزوري او بډې يوازې ټکي او برګې نه، بلکې د هغه اساسي ستونزه ټولنيزه سياسي ناپوهي جوړوي هغه څه چې د نويتوب لپاره په فکري انداز او سياسي ټولنيز لرليد کې لازم او اړين دي، هغوی ورڅخه محروم دي او يا يې د خپلو ګټو او لوړ ټولنيز موقف پخاطر مخالفت کوي.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

د افغانستان په سوزېدلي جغرافیه او وران ویجاړ او سنو غدیو تر مینځ راګیر شوی ملک کې د فدریشن ماشومانه طرحه هغه هم د توکمیز اقلیمي فرهنګ د پالنې په نوم د همدغه زه او قومي نشنلېزم بېلګه کېدای شي. د ټولنې اساسي وضعیت سره نابلدتیا او د هغه پر لوړو ژورو ناپوهي او د ستونزو د هواري پر چارو پوازې په نسخو ډېره لګول د هېواد لپاره ستر ناورینونه راپورته کولی شي.

قوم پالنه، قامي اندینه، قومي وړاندیز او همداسې نور د قومي ایدیالوژی اوتفکر بنسټونه نه یوازې دا چې زاړه شوي او ډېر یې له کاره لوېدلي دي دغه راز هم نه د نوي مهال ادبیاتو سره مرسته کوي او نه د نوي لوست نوې زده کړې نوی رغون او ملي سمون او پرمختیا سره ځنګ لګوي. دغه تفکر وروسته پاتو او د پرمختیا په حال کې هېوادونو لپاره لوی ګواښ دی چې هم د ټولنې د انکشاف مخه نیسي او هم فکر بې لارې کوي. قامي لاربنود، واکمن او بې واکه دواړه له پښو غورځوي.

کله چې په نوي نظام او سیاسي سیستم خبرې کوو د ټاکلي ټولنې ټول جغرافیايي، تاریخي، ټولنیز، اقتصادي او سیاسي واقعیتونه او کلتوري چاپېریال چې د ټولنې هېنداره ده په پام کې لرل اساسي مسئلې دي. ټولنه له کومو تولیدي، ټولنیزو مناسباتو اروزي؟ پدې لاره کې یې بشپړ کړی مزل څومره او څنګه دی؟ او هغه فرهنګ او سیاسي ادبیات چې نوی منزل ته د ټولنې د ورتګ فکري نظام جوړي، لویه پاملرنه او بصیرت غواړي او دغه بصیرت له قومي سرچینو نه خړوبېږي او نه زاړه ګودرونه د ملي وصال تم ځای کېدای شي. لنډه دا چې د قومي غوښتنو لپاره د نسخو ټاکل او له هغه دغه ځای د بېلګو راوړل ستونزه نشي هوارولی. که د یوې متمدني او مهذبې ټولنې پر قومي چورلیځ جوړېدنه عقلانیت سره سمون نه خوري، بله خوا د قومي رهبرۍ افراطیت او تربګني د بې باورۍ او لېرې والي پر بریدونو هم نه سمبالېږي او نن سبا چې افغانستان د کورنیو او بهرنیو تضادونو په زور زیاتي کې راګیر شوی، کمزورو قومي فکرونو او سوچونو بېلارېتوب او ناروا سیاسي هلو ځلو ته لاره هواره کړې او قومي ذهنیتونو هم د ټولنې په سطحه او هم د نظام په اډانه کې د ملي تشکل، یووالي مخه نیول او ملک یې د پردیو لاسوهنو پر وړاندې شل او بې ځواکه ساتلی دی.
په قومي، فرقه یي او مذهبي لیکو کې او یا د نوي لېبرالي نړیوال نظم له مخې توکمیز اندود او بېلتون پالنې ته د هېواد برخه لیک سپارل او د ملت جوړوني او بیارغونې بهیر پر قومي الواک او اندونو جوړول تبعیضي او بېلتونپالنې ته لارې هوارول د افغانستان په موجوده سیاسي جیوپولیتیک او جیواکونومیک چاپېریال کې لویو لوبو او تر ځنګ یې ملي وراني ته شرایط چمتو کول دي. لنډه دا چې د قامي وېش او ټوټالیتر نظام فکري سیاسي لارې رغنده سالمي لارې ندي پوهان ملي مسئلو لپاره طبیعي او ټولنیزې سرچینې نه لټوي یو ماشوم په ټولنې او کورنۍ او ټولنیز فرهنګي چاپېریال کې فکري فرهنګي ارزښونه تر لاسه کوي. منفي حساسیتونه خپل او پردې په نوم تبعیضي مېرځمن هڅوب ته لارې جوړول پر ستونزو د بریالیتوب لاره نده. د یوویشتمې پېړۍ غورځنګیز او له ارادو وتلی بهیر د فرهنګي مخامختیا نه بلکې د تمدنونو تر مینځ ګډ، سولمن او د تفاهم ژوند ته اړتیا لري.

د خبرو د اوږدوالي د مخنیوي لپاره د تاریخي شواهدو له مخې دا ویل پکار دي چې شلمې پېړۍ د دوو وروستیو لسیزو او یوویشتمې پېړۍ په پیل کې د قومي ناسیونالیزم هلو ځلو چې د سړې جګړې پر مهال کنګل شوې وې، ډګري شوې او په بېلابېلو بهانو او دلایلو یې پراختیا او غځونې وکړې او د دیموکراسی، آزادی په نوم قومي مذهبي تفرقو او جلا غوښتنو ته لارې پرانیستل شوې، د پخواني شوروي میراث د پرځولو او د هغې امپراتورۍ د بې ځواک کولو لپاره پر همدې دواړو لارو چارو ډېره ولګول شوه. د ختیځې اروپا او د مینځنۍ آسیا هېوادونو وروستیو لسیزو پېښې ښې بېلګې بلل کېدای شي. استعماري هیلي او د مستبدو نظامونو چلند هغه څه وو چې دغو لارو چارو او غوښتنو ته یې زمینې او شرایط برابر کړل. په هر صورت ټولنیزې فرهنګي پدیدې تاریخي مظاهر او څرګندوی دي او د تاریخي ماهیت په لحاظ لکه چې راټوکېږي نویو پدیدو او ارزښونو او حالتونو ته ځای خالي کوي، نو پدې توګه ښه په بد او بد په ښه هم بدلېدای شي. کوم ټکي چې د تاریخي پدیدو په هلکه د یادوني وړ دی هغه دا دی چې پدې اړه مطلق منفي غبرګون سم ندی. د تېر مهال ډېر څه راتلونکي ته نه یوازې دا چې میراث پاتې کېږي، بلکې د سمون او بدلون زمیني او توکي هم جوړوي.
قومي توکي کېدای شي نړیواله وړتیا تر لاسه کړي او په راتلونکي کې اغېزمن رول ولري لکه عربي، انګرېزي، اردو او داسې نورې ژبې.
قبیلویت او قومیت د زړو مناسباتو ښکارندوی او فکري چوکاټونه دي، نو د ملت جوړوني عناصر پر دغو بنسټونو نشي جوړېدای. د دې یادونه هم پکار ده چې فیدریشن د قومیت او د هغه د ساتنې لپاره جوړ شوی او څوک چې د دغو تر مینځ نېغ په نېغه تناسب او پیوستون ویني علمي سیاسي اشتباه کوي.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

بله خبره چې هراړخیزې شنني ته اړتیا لري هغه دا ده چې ننني انسان د ماهیت او صیانت ستونزه د هغه ملي هویت نده کېدای شي چې ځینې ځایونو او حالتونو کې دغه ملي هویت پخپله ربړه وګرځي ارپايي ټولنه او سیمه ییزو ملګرتیا او یووالي کېدني لرئ دغې ستونزې ته ناکراره ده. پنجابي قوم پالنه نه یوازې د پاکستان فدرال دیموکراتیک سیستم ګواښي بلکې د سیمې د پیوستون او پخلاینې خنډ ګرځېدلی.

افغانان باید په قومي او توکمیزو حل لارو نوی نظر وکړي د ملت جوړونې غوره لارې چارې او جوړونکې نظریې او چوکاټونه تشخیص کړي کوم اندونه او سیاسي الواک چې توکمیزو او قومي ډلو له خوا د افغاني ټولنې ملي جوړښت او ملي هویت د رغونې او سمبالتیالپاره وړاندې شوي او یا وړاندې کېږي باید د دې ټولنې ټول تېر مهال تاریخي لاسبریاوې وساتي او د ټولنې او نظام جوړونې بهیر د نویتوب او سمبالتیا زمینې، شرایط او لارې چارې په علمي توګه د ټولنې او وګړو د ګډو ګټو، مادي او معنوي لوړتیا په موخه په نښه او برابره کړي.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de